DAILY
اراده
د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه
۹۵۰
سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش
AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER
A.M.R.C

PROPERTY OF ACKU

اکثریت امریکایی‌ها مخالف جنگ در افغانستان هستند

بر اساس تازه ترین نظرسنجی یک شبکه امریکایی، اکثر مردم امریکا مخالف جنگ امریکا در افغانستان بوده و معتقدند که اوضاع در آنجا رو به وخامت می‌گراید. بخش نظرسنجی شبکه "سی‌ان‌ان" در تازه‌ترین نظرسنجی خود منتشر کرد که ۶۳ درصد از مردم امریکا مخالف جنگ امریکا در افغانستان هستند و بیشتر این افراد بر این باورند که اوضاع در حال بدتر شدن در افغانستان است. در این نظرسنجی آمده است که ۶ نفر از هر ۱۰ نفر امریکایی مخالف جنگ افغانستان ص۳

یولسم کال - دویمه دوره، ۹۵۰ مه گڼه، پر له پسې ۲۰۱۷ گڼه د ۱۳۸۹ ل ـ د مرغومې ۱۱ مه - د شنبې ورځ، د ۱۴۳۲ هـ ق محرم الحرام ۲۶ مه د ۲۰۱۱ د جنوری لومړۍ

۲۰۱۰، خونبارترین سال برای پاکستان و نیروهای خارجی در افغانستان



امروز اول جنوری نخستین روز سال ۲۰۱۱ است، با سپری شدن سال ۲۰۱۰ نه سال از حضور نیروهای خارجی در افغانستان گذشت. اما با وجود افزونی تدریجی نیروهای خارجی در کشور در این مدت، نه تنها اوضاع زیر کنترول نیامد، بلکه با گذشت هر سال وضعیت خونین تر و متشنج تر گردید؛ در سال ۲۰۱۰ افزون از مناطق جنوبی کشور که در گرداب ناامنی و خشونت گیر مانده بود، دامنهٔ ناامنی ها به شمال کشور نیز گسترش یافت. در این سال، کشت و خون در افغانستان و پاکستان همچنان ادامه یافت و برپایهٔ آمار رسمی یی که در این راستا ارایه گردیده این سال هم برای افغانستان و هم برای پاکستان خونبارترین سالی بود. نیروهای ناتو دیروز با نشر ارقامی در مورد تلفات سربازان شان طی ۲۰۱۰ نوشت که این سال طی ۹ سال گذشته، خونین ترین سال برای نیروهای خارجی مستقر در افغانستان بود، که طی آن ۷۰۹ سرباز خارجی کشته شده اند. این سال در حالی خونین ترین سال برای نیروهای خارجی ثابت گردیده است که مسؤولان ناتو و نیروهای امریکایی، از ص۳

ایران ولې د تېلو درول شوي ټانکرونه افغانستان ته نه راپرېږدي؟

د تهران له دې ژمنې سره سره چې د تېلو درول شويو ټانکرونو ته به افغانستان ته د تلو اجازه ورکوي، خو زرګونه ټانکرونه لاهم د ایران په سرحد کې ولاړ دي. ځینې کارپوهان په دې نظر دي، چې د افغانستان له لارې، پاکستان او هند ته د ترکمنستان د ګاز د پایپ لاین لاسلیک د ایران په دې پرېکړه کې اغېز لري، ځکه ایران په خپل قلمرو کې د ګاز د یوبل پایپ لاین پر جوړېدو ټینګار کوي. په داسې حال کې چې د افغانستان حکومت له ایرانه په دې برخه کې وضاحت غواړي، عام افغانان عملاً د تېلو د کمښت له ستونزې سره مخامخ شوي دي.

بې وزلي افغانان د ژمي په دې سړو ورځو کې، د تېلو د بیو د زیاتوالي او د خوراکي موادو او امکاناتو له کمښت سره لاس ګرېوان دي. خو له ایران سره د افغانستان په ګډ سرحد کې د ګاز په بالونونو بار زرګونه لارې او د تېلو ټانکرونه ولاړ دي، مګر ایران د تلو اجازه نه ورکوي. د ایران پلمه دا ده، چې د سون له دې موادو د ناټو ځواکونه کار اخلي.



وروسته له دې چې افغان چارواکو ایراني چارواکو ته ډاډ ورکړ، چې دې موادو ته عام افغانان اړتیا لري، د ایران ولسمشر محمود احمدي نژاد د مرغومي پر پنځمه د دولت له لومړي مرستیال محمد قسیم فهیم سره په کتنه کې ژمنه وکړه، چې د افغان سوداګرو ټانکرونو ته به اجازه ورکړي.

د افغانستان د دولتي پلاوي په ترکیب ۳مخ

تعداد نظامیان امریکایی مبتلا به امراض روانی شش برابر شده است

وزارت دفاع امریکا در گزارش جدید خود اعلام کرده است که شمار نظامیان امریکایی مستقر در عراق و افغانستان که به بیماری‌های روحی و روانی دچار شده‌اند، شش برابر شده است.



به گزارش شبکه "سی‌ان‌ان"، دفتر نظارت صحی وزارت دفاع امریکا (پنتاگون) در گزارش صحی ۳۱ صفحه یی اعلام کرد نیروهای ارتش امریکا حاضر در عراق با موج گسترده به رشد بیماری های روحی و روانی روبه رو شده‌اند. در این گزارش آمده است این مشکلات روانی در کل در بین مردم امریکا نیز روزافزون شده است اما در سطح بسیار ص۳

تېر زېږدي کال ۵۷ تنه خبریالان وژل شوي دي

د بې پولې خبریالانو ټولنې د ۲۰۱۰م کال په وروستیو کې په راپور کې ویلي، چې پر ۲۰۱۰م کال په نړۍ کې ۵۷ خبریالان په بېلابېلو پېښو کې وژل شوي دي، چې د ۲۰۰۹م کال په پرتله ۲۵ فیصده کموالی ښیي. پر ۲۰۰۹م کال ۷۶ خبریالان وژل شوي وو. راپور وایي د نړۍ په جګړه ځپلو سیمو کې د خبریالانو وژنه کمه شوې ده. دغه راپور وایي دا مشکله ده چې معلومه شي چې دغه خبریالان د چا له خوا وژل شوي، د جنایتکارو له لوري، وسلوالو ډلو که مذهبي ټولنو له لوري. په دې راپور کې بیا په ۲۰۱۰م کال کې د خبریالانو د تښتونو پېښې زیاتې ښوول شوي، پر ۲۰۰۸م کال د تښتونو پېښې ۲۹ ثبت شوي، پر ۲۰۰۹م کال ۳۳او پر ۲۰۱۰م کال ۵۱ پېښې. په افغانستان کې هم د خبریالانو وژنې، تښتونې او ګواښل زیات دي، په افغانستان کې د مخکېنیو وژل شویو خبریالانو قاتلین هم معلوم نه شول او افغان دولت په دې برخه کې هغسې چې د همکارۍ ژمنه کړې وه، مرسته نه ده کړې.

وزیر امور خارجهٔ آلمان

استقرار صلح در افغانستان، اولویت ما در شورای امنیت

وزیر امور خارجهٔ آلمان اظهار داشت که آلمان به عنوان عضو جدید شورای امنیت در سال جدید قبل از هر چیز برای تحقق صلح در افغانستان تلاش خواهد کرد. گوییدو وستروله، وزیر امور خارجهٔ آلمان، اظهار داشت که آلمان به عنوان کشوری که از اول جنوری به مدت دو سال یکی از کرسی‌های شورای امنیت سازمان ملل را در اختیار خواهد گرفت، قبل از هر چیز برای تحقق صلح افغانستان و روند تدریجی انتقال مسوولیت به افغان‌ها تلاش خواهد کرد. وزیر امور خارجهٔ آلمان گفت: با این حال احتمال و امکان تاثیرگذاری ما محدود است، چرا که آلمان به عنوان عضو غیر دایم سازمان ملل، از حق ویتو برخوردار نیست. وستروله افزود: هدف ما حضور باثبات و قاطع و روشن در شورای امنیت سازمان ملل و همنوایی و همکاری نزدیک با متحدان ما در اتحادیهٔ اروپاست.



د هېواد پر اقتصاد او چاپېریال د برېښنا د لوړې بیې ناوړه اغېزې ۲

د لوی او ښښونکي خدای (ج) په نامه

سرمقاله

۲۰۱۱ زېږدي کال به د سولې او که د جګړې پیغام ولري؟

۲۰۱۰ کال پای ته ورسېد او ۲۰۱۱ کال له نویو اندېښنو او هیلو سره یو ځای پیل شو. که څه هم افغان دولت، امریکا او ناټو هېوادونو په تېر کال کې یو څه لاسته راوړنې درلودلې، خو دا هم باید ووایو، چې تېر کال له ډېرو ستونزو او کړاوونو سره مل کال هم و. په تېر کال کې له یوې خوا دولت د وسلوالو مخالفانو سره د مذاکرو لړۍ هم راپورته او توده شوه، د سولې مشورتي جرګه جوړه شوه، د سولې عالي شورا جوړه شوه او د سولې په برخه کې ځینې نورې مهمې غونډې په بهر او د هېواد په دننه کې ترسره شوې او په دې توګه په هېواد کې د سولې لپاره ګڼې هڅې او تلاشونه ترسره شول، خو له بلې خوا بیا تېر کال کې هم د سختو جګړو، مرګونو، ملکي تلفاتو، ویرانیو او ژوبلو ډک کال و، په تېره بیا د نړیوالو ځواکونو لپاره، چې هغوی ته په کې ډېر درانه تلفات هم واوښتل.

دزیانونو په اړه یوې وېپاڼې، چې په افغانستان او عراق کې د مېشتو بهرنیو ځواکونو د مرګ ژوبلې په اړه معلومات خپروي، لیکلي دي، د ۲۰۱۰ زېږدي کال په اوږدو کې د افغانستان په بېلابېلو سیمو کې ۷۰۹ بهرني سرتېري وژل شوي دي. د دغې وېپاڼې د معلوماتو له مخې، تېر کال (۲۰۰۹) په افغانستان کې ۵۲۱ بهرني سرتېري وژل شوي وو. د ۲۰۱۰ کال په اوږدو کې تر ټولو زیات امریکایي سرتېري وژل شوي، په دې موده کې ۴۹۸ امریکایي، ۱۰۳ بریتانوي او ۱۰۸ نورو وژل شویو سرتېرو د ناټو په اړونده نورو هېوادونو پورې تړاو درلود.

د دغه کال په اوږدو کې له وژل شویو سرتېرو څخه یې ډېری په هلمند، کندهار او کونړ ولایتونو کې وژل شوي دي. د یادې شوې وېپاڼې د معلوماتو له مخې، په تېرو نهو کلونو کې، چې د امریکا په مشرۍ ایتلافي ځواکونو په افغانستان کې د طالبانو او القاعدې پر ضد جګړه پیل کړې، تر اوسه ۲۲۷۹ بهرني سرتېري وژل شوي دي. سرچینې زیاته کړه، چې په دې سرتېرو کې هم له ټولو زیاته شمېره د امریکایي سرتېرو ده، په دې موده کې ۱۳۰۹ امریکایي، ۳۴۸ بریتانوي او د کاناډا ۱۵۴ سرتېري وژل شوي دي. دا یوازې د بهرنیو پوځونو د تلفاتو شمېره وه، چې وړاندې شوه. باید ووایو، چې په دې هېواد کې د بهرنیو پوځونو پر تلفاتو سربېره د افغان پوځونو او وسلوالو مخالفانو د تلفاتو شمېر هم د تېر کال د نورو کلونو په پرتله څو برابره ښودل شوی او دا ټول د دې شاهدي ورکوي، چې تېر کال په هېواد کې د نورو تېرو کلونو په پرتله له ستونزو، تاوتریخوالو او جګړو ډک کال و او دې جګړې او تاوتریخوالو د هېواد پر هر اړخیزو ټولو چارو باندې منفي اغېزې درلودلې دي او په دې توګه د افغانستان لپاره د امریکا پوځي ستراتېژي له سختو ستونزو سره مخ وه، که څه ځینې بدلونونه یې په کې راوستل او د ناټو عمومي قومندان یې هم بدل کړ، خو بیا یې هم هغسې نتیجه ورنه کړه، لکه څنګه چې ترې تمه کېدله. په هر صورت تېر خو تېر شو، خو مهمه داده، چې راتلونکی به څه ډول وي، ایا د تېر په څېر به له ستونزو، جګړو، وژنو او تلفاتو ډک کال وي او که به د سولې، ارامۍ او سکون کال؟ خو که چېرې تېر ته په کتو او د راتلونکي په اړه فکر وکړو، نو ښایي راتلونکی کال هم د تېر په شان له ستونزو ډک وي، ځکه په راتلونکي کال کې یو لور ته بهرني ځواکونه ورو ورو وتل پیلوي او له بل لورته بهرنیو ځواکونو خبرداری ورکړی، چې راتلونکی کال سختې او اوږدې جګړې په مخ کې لري او همداشان بل لورته بیا د سولې هلې ځلې هم روانې دي او په همدې پلمه د سولې عالي شورا خپل کار پیل کړی دی، نو له دې ټولو هیلو او اندېښنو سره سره دا دی نوی میلادي کال پیل شو او په دې کال کې، افغان دولت، ناټو او امریکا ته سختې ازموینې هم په مخ کې پرتې دي او تر دې ازموینو بریالي راوتل هم څه اسانه خبره نه ده او هرو مرو د سختو جګړو، ستونزو او تلفاتو وېره او شونتیا هم ورسره مله برېښي.

د هېواد پر اقتصاد او چاپېریال د برېښنا د لوړې بیې ناوړه اغېزې

نسیم بریال



سره له دې چې یویشتمه پېړۍ پیل شوې، خو بیا هم زموږ هېواد د برېښنا له انرژۍ څخه بې برخې دی. دا سمه ده، چې د کابل او ځینو نورو مهمو ولایتونو په ښارونو کې یو څه برېښنا شته، خو دومره نه ده، چې سړی ورته برېښنا ووایي، ځکه کله وي او کله نه او که وي هم، سړی ترې په ډاډه زړه ګټه نه شي اخیستلای، ځکه که لګښت یې سړی وسنجوي، نو دومره په لوړه بیه تمامېږي، چې حتا د لرګیو او نورو سون توکو تر دوه چنده بیې هم لوړېږي. په دې ډول که له یوې خوا په هېواد کې یوازې لس سلنه برېښنا لرو، خو له بلې خوا د همدې یادې سلنې برېښنا بیه هم دومره لوړه ده، چې تر مصرفولو یې خلک نه مصرفولو ته خوشحاله دي. دا چې په افغانستان کې د برېښنا د بیې د لوړوالي اصلي لامل څه شی دی، دا ښکاره دی او هغه دا چې په دې هېواد کې له بده مرغه باید ووایو، چې او به ښې پرېمانه شته، خو د او بو او برېښنا د بندونو کمی دی او په همدې حال کې افغان دولت له بهره د برېښنا د واردولو تړون کړی او له ازبکستان هېواده اوسمهال افغانستان ته برېښنا راځي، چې که دا برېښنا له تخنیکي، کیفي او کمیتي اړخه وڅېړو، نو په ښکاره ویلای شو، چې دا برېښنا افغان دولت ته په لوړه بیه تمامېږي او بیا چې کله پر خلکو وېشل کېږي، نو دولت خو هم خپله ګټه په پام کې نیسي او په دې توګه دا برېښنا تر خلکو پورې یو پر لسه قیمته تمامېږي. اصلاً ضرور خو دا وه، د دې پر ځای چې په ډېره لوړه بیه له ازبکستان هېواده برېښنا وارده شي او پر دغې پروژې لوی لګښت وشي، باید هغه پیسې په خپله د هېواد په د ننه کې د اوبو او برېښنا پر بندو او پروژو باندې لګول شوې وای، چې له یوې خوا به د پردیو له احسانه ډکې برېښنا احتیاج نه وو او له بلې خوا به هم خودکفا وو او هم به مو پر ډېره وړ بیه برېښنا ته لاسرسی کېده، نو له همدې امله ده چې اوس په هېواد کې د برېښنا بیه ډېره لوړه ده او ډېری خلک د دې پر ځای کې له برېښنا ګټه واخلي، له نورو سون توکو لکه لرګیو، ګاز او تېلو څخه ګټه اخلي، چې په دې کار سره تر ډېره د هېواد چاپېریال ککړېږي او همدا اوس که د هېواد د ګڼ مېشتو ولایتونو مرکزونه، په تېره بیا د کابل ښار چاپېریال مطالعه کړو، نو چاپېریال یې سخت له چټلیو ډک دی او دا ځکه چې له یوې خوا بیروبار په کې زیات دی او همداشان وسایط په کې ډېر دي، خو له بلې خوا بیا د ښار ډېری اوسېدونکي د برېښنا پر ځای له نورو دودګنو څیزونو، لکه لرګیو، تېلو او نورو څخه ګټه اخلي او د چاپېریال د لازیاتې چټلۍ لامل کېږي. دا د برېښنا د لوړې بیې هغه اغېزې وې، چې پر چاپېریال یې اچولي او چاپېریال یې له سختو ستونزو سره مخ کړی دی، خو له دې سره سره د برېښنا لوړې بیې د هېواد پر اقتصاد هم ناوړې اغېزې اچولي دي. په همدې حال کې افغان سوداګرو او صنعتګرو پر حکومت تور پورې کړی، چې د سوداګرۍ او صنعت د ودې لپاره وړ شرایط نه برابروي او د برېښنا د وزارت د بې کفایتۍ له کبله په سلګونو فابریکې په ټپه درېدلې دي. د افغانستان د ټولو ولایتونو او مرکز سوداګرو او صنعتګرو د تېرې سې شنبې په یوه غونډه کې چې تر چارواکو پورې د خپلو ستونزو د څرګندولو لپاره یې په کابل کې جوړه کړې وه، پر حکومت نیوکې وکړې چې د پانګوالو او صنعتګرو لپاره یې د برېښنا او امنیت د برابرولو لپاره کافي هڅه نه ده کړې. دوی د مالیو زیاتوالی، په دولتي ادارو کې د فساد زیاتوالی او په قوانینو کې ستونزې د خپل کار د دوام نور چلینجونه وبلل. د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو د خونې مرستیال او مشهور سوداګر خان جان الکوزي وویل چې دولت تراوسه پوري د صنعتګرو او سوداګرو ډېرو وړو غوښتنو ته هم ځواب نه دی ویلی. ده د مالیې وزارت تورن کړ چې «یوازې په دې فکر کې دی چې څومره مالیه ټوله کړي. د خلکو د ژوند سویه ورته مهمه نه ده، په دې پسې نه ګرځي چې خلک کار لري او که یې نه لري صرف محصول او ټکس زیاتوي څو مالیه زیاته شي.» ښاغلي الکوزي همداراز وویل:

۳مخ

ناتو به چه درد روسیه می خورد؟

یکی از موضوعات مطرح سال میلادی که اختتام یافت مبحثی است که آیا روسیه می تواند و یا اینکه لازم است عضو ناتو شود یا خیر؟ در برخی از نشریات غربی مقالاتی مربوط به کارشناسان معتبر و یا سیاستمداران اسبق در خصوص تمایل به چنین سناریویی به چشم می خورد که در راس "مادلن البرایت" وزیر امور خارجه سابق امریکا توصیه هایی جهت نظریه استراتیژیکی جدید پیمان اتلانتیک شمالی (ناتو) آماده شد و مباحث پیرامون دعوت از روسیه به طور جدی برگزار گردید اما در عمل در بیانیه نهایی این آیده منعکس نشد. بعد از اجلاس لیزبن که در جو نسبتا مساعد برگزار شد، دو نفر از مقام های بلند پایه روسیه،" ولادیمیر سورکوف" معاون رییس دفتر ریاست جمهوری روسیه و " الکساندر کرامارنکو" مدیر اداره طرح و برنامه سیاست خارجی وزارت امور خارجه آنکشور، عضویت روسیه در پیمان اتلانتیک شمالی را امکان پذیر دانستند. مباحث پیرامون قرابت سازمانی روسیه و ناتو نشان می دهد که چطور همه چیز تغییر کرده است. ناتو به طور مسلم دوران خود را پشت سر گذاشته و وظیفه جدیدی برای آینده درآن دیده نمی شود. از این ساختار نظامی- سیاسی "ژاندارم جهانی" بوجود نیامد و اگر به محدوده مسئوولیت اولیه آن یعنی اروپا باز گردیم می توان گفت که در آن مشکل خاصی در زمینه امنیتی بوجود نیامده است به غیر از حل نهایی مسئاله روابط با مسکو. حل این مسئاله که در روند آن بدون تردید باید درک همگرایی جدید از هر دو طرف بوجود آید، می توان به مفهوم وجود ناتو بعنوان سازمان منطقه یی کمک کند. روسیه نیز به تدریج از مفهوم اینکه ناتو تهدید اصلی بشمار می رود، دوری می گزیند. روابط روسیه با ناتوهنوز معلوم نیست که چه مدت دیگر طول بکشد. اما با گذشت زمان این انعکاس صدا بیش از گذشته با اصوات دنیای امروزی ناهمگونی نشان می دهد.

خط اصلی تنش ها – خط امریکا وچین است که به طور ناخواسته بدان جهت سوق پیدا می کند و این مسئاله با آنکه هنوز محقق نشده اما احتمال آن روز به روز بیشتر می شود. برای روسیه توسعه اوضاع در آن منطقه در اصل ماهیت سرنوشت سازی دارد چرا که دورنمای تبدیل به "جنس معامله یی" شدن میان بیجینگ و واشنگتن و یا مبدل شدن به جبهه اول یکی از دو کشور در تقابل میان آنها برای مسکو به هیچ وجه قابل قبول نیست. در این منطقه تقریب سازمانی میان

ص۳

سالـــــی کـــه ...

نشان داد که بین ۱۵ تا ۱۷ درصد مردم به این انتخابات آری گفته بودند. بعد از آنکه نتایج اولیهٔ آرای انتخاباتی اعلان شد، اعتراض های بسیاری از کاندیدان شکست خورده برخاست و در کابل و هرات تظاهراتی به راه افتاد. اما کمیسیون به زودی نام ۲۷ تن از نامزدان برنده را حذف کرد و اعتراض این وکلا چیزی بر تظاهرات گذشته افزود. تا اینکه بالاخره نتایج نهایی اعلان شد و کاندیدا ن برنده از کرزی خواستند، تا پارلمان جدید را افتتاح کند. در این وقت، یکباره لوی سارنوالی اعلان کرد که وکلای برنده اکثر در سرای شهزاده و دوبی انتخاب شده و خواهان باطل شدن نتایج انتخابات شد. لوی سارنوال مدعی شد که در این زمینه اسنادی در دست دارد و هفت تن را دستگیر کرده و خواهان حاضر شدن سخنگویان هر دو کمیسیون به سارنوالی شد. مگر نه نور و نه رفعت حاضر به جوابگویی به سارنوالی نشدند و این کار را بالاتر از صلاحیت این نهاد دانستند. لوی سارنوالی بالاخره صورت دعوا اش را به ستره محکمه پیشکش کرد و ستره محکمه یک محکمهٔ اختصاصی پنج نفره را موظف ساخت، تا این دوسیه را به پیش ببرد و کرزی اعلان کرد، در صورتی که ستره محکمه انتخابات را تایید کند، در اول دلو به گشایش آن دست خواهد زد. در این میان احمد خان از سمنگان و پاچاخان از خوست، راه های عمومی شمال و جنوب را برای چند روز به رسم اعتراض بستند.

بعد از تشکیل این محکمه، نامزدان شکست خورده در برابر ستره محکمه دست به تظاهرات زده و خواهان ابطال نتیجهٔ انتخابات شدند. اینکه این انتخابات باطل اعلان شود، کمتر کسی به آن باور دارد. چون بعد از اعلان نتایج نهایی و تحویلی جواز شرکت در ولسی جرگه از سوی کمیسیون به برنده گان، سفارت امریکا، سفارت روسیه، اتحادیهٔ اروپا و سازمان ملل این نتایج را قبول کردند و کسی باور ندارد که برای برگزاری بار دیگر انتخابات این کشورها حاضر شوند که خود را با خطرهای امنیتی مواجه سازند و ۱۷۰ میلیون دالر دیگر بر این انتخابات به مصرف برسانند، اما از چند روز به این سو گفته می شود که احتمال برگزاری مجدد انتخابات در غزنی ، لغمان و یکی دو ولایت دیگر به نظر می رسد.

ادامه دارد

ناتو به چه درد روسیه ...

روسیه و ناتو دو چیز قابل توجه وجود دارد: اولاً حرکت کشتی روسیه به سمت ساحل سازمان ها و مناطق جغرافیایی که نقش آنها در سطح بین المللی در حال نزول است. ثانیاً تغییر کیفی روابط با چین، چرا که در بیجینگ رمان "روسیه- ناتو" در هر صورت به عنوان دوستی علیه چین بشمار خواهد رفت، حال روسیه هر دلیلی که می خواهد بیاورد، به نوعی می توان گفت که چین در شرایطی قرار خواهد گرفت که چندی پیش روسیه قرارداشت بعبارت دیگر وضعیتی که مسکو در گرماگرم احتمال الحاق اوکراین به ناتو قرار داشت. چه بسا سپر ضد موشکی مشترکی که در اجلاس اخیر به آن اشاره شد به طور بالقوه و از نظر ساختاری علیه چین خواهد بود.

فقط در صورتی می توان ریسک تنش شدید در روابط سیاسی با همسایه قدرتمند که امواج تاثیر جهانی آن روز به روز خروشان تر می شود را به جان خرید که سرمایه عظیم در دوردست در انتظارت باشد. اما در عین حال تصور این شرایط غیر قابل هضم خواهد بود که پیمان اتلانتیک شمالی جهت تضمین امنیت مرزهای شرقی و جنوبی روسیه اعلام آماده گی نماید. در کل روسیه در صورت الحاق جیوپولیتیکی به ناتو باید نقش حامی و تامین کننده امنیت را ایفا کند، همان نقشی را که امروز امریکا برای متفقان خویش بازی می کند، نه نقش مورد حمایت واقع شده. در حال حاضر با در نظر گرفتن دیدگاه برخی از اعضای جدید ناتو نسبت به روسیه این مسئاله کاملا غیر منطقی و ناباورانه به نظر می رسد اما طی ۲۰ سال اخیر مردم شاهد آن بودند که چه اتفاق های غیر منتظره یی در جهان رخ خواهد داد.

اگر مسئاله عضویت روسیه در ناتو به طور حقیقی ده سال یا ۱۵ سال پیش مطرح می شد، مفهوم آن کاملا متفاوت بود. پیمان اتلانتیک شمالی در آن زمان در زمینه امنیتی نقش بلا منازعه یی را ایفا می کرد و روسیه برای محدودیت خود آماده گی داشت و چین نیز عامل تعیین کننده شناخته نمی شد. اما در آن زمان هیچکس به جدیت در این موضوع تامل نکرده بود و امروز وقایع کاملا جدیدی رخ داده است.

رفع رقابت روسیه با ناتو که از بسیاری جهات جنبه ظاهری دارد ضروری است اما پیش از هر چیز برای آنکه از هدر دادن وقت و نیرو برای مناقشه یی که مربوط به قرن گذشته است، جلوگیری شود. این مسئاله می تواند به پیشرفت و رشد اقتصادی کمک کند چرا که تردیدهای بیش از حد را به خاطر روابط تجاری از بین می برد. اما همین مسئاله عملا به مسایل واقعی امنیتی در قرن بیست ویکم به هیچ وجه ارتباطی ندارد و آنها را باید در اشکال دیگری بررسی کرد، پیش از هر چیز در مثلث روسیه- چین و ایالات متحده امریکا.

پنتاگون: تعداد نظامیان امریکایی ...

بالاتری در بین نیروهای مسلح به ویژه نظامیان جنگی که درعملیات‌های نظامی عراق و افغانستان شرکت داشته اند، به وفرت دیده می شود.

بنا بر گزارش پنتاگون مشکلات و بحران‌های روحی ناشی از این بیماری‌ها در بین سال‌های ۲۰۰۳ تا ۲۰۰۸ شش برابر شده است و اکنون اصلی‌ترین و بزرگترین علت بستری شدن نظامیان امریکایی در شفاخانه ها ابتلای آنها به بیماری‌های روحی است.

درگزارش هم چنان تذکر رفته است که ارتش امریکا در معرض بدترین بحران‌ها پس از ابتلای نیروهایش به بیماری‌های روحی قرار گرفته است که از جمله این بیماری‌ها، استرس و افسرده گی طولانی مدت، اعتیاد به مواد مخدر و مشروبات الکی است. بر اساس این گزارش در دوران طولانی مدت جنگ عراق و افغانستان شمار نیروهای عامل ارتش امریکا در این دو کشور که به خاطر مشکلات روحی روانی از بین رفته یا خود کشی کرده‌اند دو برابر شمار تلفات نیروی دریایی و سه برابر شمار تلفات نیروی هوایی این کشور است.

اکثریت امریکایی‌ها مخالف...

هستند و ۵۶ درصد از شرکت کننده گان در این نظرسنجی اعلام کردند اوضاع برای امریکا در افغانستان رو به بدتر شدن است. بر اساس این گزارش این آمار و ارقام در تضاد با ارقامی است که در ماه مارچ به دست آمده بود، در آمار و ارقام ماه مارچ سال گذشته میلادی، اکثر مردم امریکا بر این باور بودند که جنگ افغانستان در حال پیشرفت است اما در ماه سپتمبر سال گذشته میلادی شمار افرادی که در امریکا معتقد بودند که اوضاع جنگ امریکا در افغانستان در حال پیشرفت است به ۴۴ درصد کاهش پیدا کرد و تعداد افراد امریکایی مخالف با جنگ امریکا در افغانستان به ۵۵ درصد افزایش پیدا کرد و بدبینی نسبت به وضعیت موجود در افغانستان نیز به طرز چشمگیری افزایش پیدا کرد

ایران ولـــې د تېلـو درول...

کې د سوداګرۍ وزیر انوارالحق احدي هم شامل و. ښاغلي احدي له ازادۍ راډیو سره په مرکه کې وویل، ایراني چارواکو ادعا کوله، چې دوی ته د رسېدلو راپورونو له مخې د دې تېلو له یوې برخې څخه ناټو کار اخلي. احدي زیاته کړه، افغان پلاوي ایراني چارواکو ته قناعت ورکړ، چې دا راپورونه ناسم دي او د پلاوي غړي په دې ګومان هېواد ته ستانه شول، چې د دوی له تلو سره سم به د تېلو ټانکرونه افغانستان ته پرېښودل شي.

خو دا دی د څو ورځو له تېرېدو وروسته یوازې څو محدودو ټانکرو ته اجازه ورکړل شوې، چې افغانستان ته لاړ شي، خو زرګونه نور، لاهم د اسلام قلعه او زرنج په بندرونو کې د ایران پر پوله درول شوي دي او ایران د هغو په اړه هېڅ وضاحت نه ورکوي. افغانان چې د ایران له دې پرېکړې څخه زیانمن شوي دي، وایي چې تهران غواړي په دې ډول نړیوالو ته د هغو بندیزونو ځواب ووایي، چې ملګروملتونو پرې لګولي دي. ځینې افغان څارونکي بیا دا مسئله د میلیاردونو ډالرو په ارزښت، د افغانستان، پاکستان او ترکمنستان د ګاز له پایپ لاین څخه د ایران د ګوښه پاتې کېدو له وجې د تهران له غوسې سره تړي.

د سیاسي چارو کارپوه وحیدمژده وایي، د دې ادعا ثابتول، چې له دې تېلو څخه د ناټو ځواکونه کار اخلي، ډېره ستونزمنه خبره ده، خو دی وایي، ایران د افغانستان د سرحد په بندولو سره واشنګټن ته پر دې هېواد د لګول شویو بندیزونو واضح ځواب ورکوي. د مژده په وینا، تهران په خپل دې کار سره غواړي د انرژۍ د سرچینو لرونکو سیمه ییزو سیالانو ته هم یو پیغام ورکړي: نژدې درې اوونۍ مخکې افغان، ترکمن، پاکستاني او هندي مشرانو د افغانستان له لارې پاکستان او هند ته د ترکمنستان د ګاز د لېږدولو د پایپ لاین تړون لاسلیک کړ، که څه هم د دې پایپ لاین پر وړاندې د افغانستان په جنوب او د پاکستان په بلوچستان ایالت کې د بې امنیو ستونزې پرتې دي. ښاغلی مژده زیاتوي، د ایران د دې پرېکړې ډېر زیان عاموافغانانو ته رسېږي، ځکه په افغانستان کې بې له پخوا نه هم اوچتې وې، خو د دې ټانکرونو د مخنیوي له وجې د سون د موادو بیې او د موټرو کرایې نورې هم اوچتې شوې او دې کار بیا د نورو موادو بیې له ځان سره اوچتې کړې.

د هېواد پر اقتصاد او ...

«یو کیلوواټ برېښنا په ۲۷ افغانۍ، چې تر نیم ډالره زیاته ده، تامېږي. په هرات او کندهار کې ۴۵۰ فابریکې د برېښنا د محصول د زیاتوالي له کبله بندې شوې دي. په دې ډول ویلای شو، چې د برېښنا په برخه کې بې کفایتۍ، اداري فساد او په ځانګړې توګه د برېښنا لوړې بیې هم پر چاپېریال سخت اغېز شیندلی او هم یې اقتصاد ته ضربه ورکړې ده او په همدې ډول د روان حالت ورو ورو نور هم د لوړېدو په حالت کې دی. پرته له دې چې د برېښنا وزارت چارواکي د عامه خلکو د ژوند او روزګار سطحه وخېړي او همداشان په هېواد کې پر اقتصادي چارو باندې د برېښنا اغېز وڅېړي، د برېښنا بیې لوړوي او دا دې لامل کېږي، چې له یوې چاپېریال چټلېږي او له بلې خوا هېواد د اقتصادي رکود پلو بیایي، نو په دې توګه د برېښنا د بیې لوړوالی د دې پر ځای چې دولت ته ګټه وکړي، تر ګټې یې ورته تاوان زیاتر سېږي او دا هغه پټه او ناویلې ستونزه ده، چې جدي څېړنې او حل ته اړتیا لري.

۲۰۱۰، خونبارترین...

پیشرفت ها نیز، در این کشورادعا نموده است. یک صفحه انترنتی به نام (تلفات) که در مورد تلفات نیروهای خارجی در افغانستان و عراق معلومات به نشر می رساند، نوشته است که در جریان سال ۲۰۱۰ میلادی، در مناطق مختلف افغانستان ۷۰۹سرباز خارجی کشته شده اند. به اساس معلومات این صفحهٔ انترنتی، سال گذشته (۲۰۰۹) ۵۲۱ سرباز خارجی در افغانستان کشته شده بودند. در جریان سال ۲۰۱۰ میلادی، بیشتر از همه سربازان امریکایی کشته شده اند. در این مدت، ۴۸۸ سرباز امریکایی، ۱۰۳ سرباز بریتانیایی و ۱۰۹ سرباز کشته شده مربوط به کشورهای دیگر عضو ناتو می باشند. به اساس معلومات صفحهٔ انترنتی یادشده، طی ۹ سال گذشته که نیروهای ایتلاف به رهبری امریکا علیه طالبان و القاعده به جنگ آغاز نموده اند، تا حال ۲۲۷۹ سرباز خارجی کشته شده اند. منبع علاوه نموده است که تعداد زیاد این رقم را نیز سربازان امریکایی تشکیل میدهد، در این مدت ۱۳۰۹ سرباز امریکایی، ۳۴۸ سرباز برتانیایی و ۱۵۴ سرباز کانادایی کشته شده اند. هرچند آیساف و صفحهٔ انترنتی یادشده در مورد تعداد سربازان مجروح خارجی معلومات نداده است، اما تنها همین قدر یادآور شده است که طی ۹ سال گذشته، ۹۲۵۶ سرباز امریکایی در افغانستان مجروح شده اند.

اما در پاکستان:

سال ۲۰۱۰ برای مردم پاکستان نیز بدترین سال بوده است. پاکستان در سال ۲۰۱۰ با مشکلات شورشگری، جاری شدن سیلاب‌های بی‌سابقه و اقتصاد به تحلیل رفته مواجه بود. این مشکلات در سال ۲۰۱۱ همچنان دامنگیر این کشور خواهد بود.

از بسیاری زوایا، سال ۲۰۱۰ برای مردم پاکستان از مدت‌ها به این سو بدترین سال بوده است. موارد رو به افزایش حملات انتحاری، سیلاب‌های مخرب در سراسر این کشور، بحران طاقت فرسای انرژی، تورم بی اندازه بالا، سوء مدیریت اقتصادی و بیکاری زنده گی شهروندان عادی پاکستان را به شدت تحت تاثیر قرار داده است.

سالـــــی کـــه گـــذشت

میرصادقی

قسمت هفتم

بعد از آنکه کرزی در انتخابات ریاست جمهوری کاندید و برنده شد، مدت ها وزرای جدید را برای گرفتن رای اعتماد به ولسی جرگه معرفی نکرد و با همان وزرای سابق کار می کرد. از این بابت فغان های ولسی جرگه چند بار بالا شد و رسانه های نیز، روی آن بسیار مکث می کردند. بالاخره کرزی این وزراء را به ولسی جرگه فرستاد، اما فقط هفت وزیر از ۲۴ وزیر قادر به اخذ رای اعتماد گردیدند و دیگران از سوی ولسی جرگه رد شدند. کرزی بار دیگر وزرای پیشنهادی اش را به ولسی جرگه فرستاد، این بار نیز، فقط هفت تن موفق به کسب رای گردیدند و دیگران رد شدند. در هر دو بار در میان رد شده گان، وزرای هزاره رای اعتماد نیاوردند و به این خاطر فاطمه نظری از جا بلند شد و چند شعار ضد آنانی که قوم گرا اند را داد و بعد وکیلی که می خواست او را دعوت به آرامش کند، از سوی خانم نظری بوتل باران شد. برخی ها این کار فاطمه را برایش کمپاینی دانستند، چون در انتخابات ۲۷ سنبله نیز به پیروزی رسید.

بعد از این همه رد شدن ها کرزی تصمیم گرفت، تا در ۱۰ وزارتخانهٔ دیگر، وزرای سرپرست معرفی دارد. با آنکه چندین بار وکلای ولسی جرگه اعتراض کردند، اما کرزی اصلاً حرف آنان را نشنید و این وکلا همچنان به کار شان ادامه دادند. برخی ها علت رد شدن این همه وزیر را از سوی ولسی جرگه به خاطر فساد حاکم بر اوضاع می دانستند، چون باور داشتند که وکلا در چنین وقتی پول زیادی غریبی کرده و برای دادن رای اعتماد، چاره یی شان را می کردند. زیرا مردم دیده بودند که یک بار ولسی جرگه با عصبیت عجیبی، با اکثریت بسیار بالا تصمیم گرفتند، تا کریم خرم وزیر اطلاعات و فرهنگ آن زمان را استیضاح کنند و بسیاری به این باور رسیده بودند که سر از فردا او دیگر وزیر اطلاعات و فرهنگ نخواهد بود و از همان دروازه رخصت خواهد شد. اما همان شب موهبتی نازل شد و این وزیر در فردا با اکثریت آراء بار دیگر در چوکی وزارت ابقا شد. این تجربه برای همه واضح ساخت که حرف های تند و تیز اعضای ولسی جرگه، یک شب هم دوام نمی آورد و دوباره «دلسوز» می شود.

در این سال، ولسی جرگه برای تقسیم دشت پدوله برای اعضای پارلمان کمر بست. وکلای ولسی جرگه اعلان کردند که می خواهند، دشت پدوله را در برابر پول ناچیزی میان شان تقسیم کنند، تا از یک طرف این «وکلای ملت» صاحب خانه شوند و از سوی دیگر، زنده گی مشترک آنها باعث ایجاد «وحدت ملی» گردد. اما در دفاع از دشت پدوله مردم ده دانا و چهل ستون مظاهره کردند و اعلان کردند که این دشت را که در جوار منطقهٔ زیست آنها قرار دارد و از بخشی از این دشت قباله هم دارند، حاضر نیستند که به این وکلا واگذار نمایند. این مظاهرهٔ ملت بر ضد «نماینده گان ملت» نشان داد که مردم، این ولسی جرگه را چگونه نهادی می دانند. وکلای ملت می خواستند که برای هر یک شان در این دشت، ۱۰ بسوه زمین داده شود. این وکلا می دانستند که چند سال قبل قوهٔ اجراییه شیرپور را چور کرد و در ظرف چند روز آن را تکه و پاره نمود، پس «حق» قانونی خود می دانستند که دشت پدوله را برای خود تقسیم کنند. اما چون این «وکلای ملت» در روزهای آخر کار شان متوجه این امر مهم شده بودند، فرصت نیافتند که چنین کاری را به سر برسانند و بالاخره «وحدت ملی» تامین نشد و به حال خود باقی ماند!!!

در این سال، انتخابات ولسی جرگه هیاهوی زیادی خلق کرد. ابتداء که قرار بود، این انتخابات در ماه جوزا صورت گیرد، تا ۲۷ سنبله به تعویق افتاد. در این مورد اعتراض های زیادی به راه افتاد و ده ها مقاله، مصاحبه و میز گرد از طریق رسانه ها به نشر رسید و برای چند روز بازار مطبوعات داخلی و خارجی بسیار گرم شد و حکومت به اقدام غیرقانونی متهم گردید. بحث روی اعضای کمیسیون مستقل انتخابات نیز، بسیار داغ شد و بالاخره عزیز لودین از کار برکنار و فضل احمد معنوی به جای او به این سمت گماشته شد. بر سر اعضای کمیسیون شکایات انتخاباتی نیز، بگو مگوهایی درگرفت و بالاخره فیصله شد که از پنج عضو، دو عضو آن خارجی و سه عضو آن داخلی باشند. کمیسیون انتخابات اعلان کرد که از شش هزار نفری که با این کمیسیون کار می کنند و از این جمله عده یی که در تخلف های انتخابات ریاست جمهوری متهم شده بودند، برکنار و عوض آنان افراد جدیدی انتخاب شدند.

بالاخره در ۲۷ سنبله این انتخابات با هزاران تخلف و تقلب برگزار شد. گزارشگران در تمام نقاط کشور به رسانه های شان گزارش دادند که در همه ذکری از تقلب و تخلف انتخاباتی شده بود. عده یی از زورمداران، صندوق های انتخاباتی را از اوراق جعلی پر کردند وعده یی چند بار رای دادند و برخی با افراد مسلح به سایت های انتخاباتی داخل شدند و برای شان رای دست و پا نمودند. در این روز برخوردهای بسیاری میان نیروهای امنیتی و طالبان رخ داد و بر چندین مرکز حمله صورت گرفت، بگذریم از اینکه در عده یی از ولسوالی ها اصلاً انتخابات برگزار نشد. بعد از جمع آوری اوراق رای دهی، کمیسیون شکایات انتخاباتی به درج شکایات پرداخت و بیش از ۴۵۰۰ شکایت را درج کرد و کار را روی آنها آغاز نمود و بعد اعلان شد که یک میلیون و سیصد هزار رای باطل است. در این انتخابات، مردم به پیمانهٔ بسیار کمی شرکت کردند و ارزیابی ها ص۳

کنوانسیون رفع کلیه تبعیضات علیه زنان

ماده دهم:الف- امکانات و شرایط مساوی با مردان درزمینه شغلی و حرفه یی و درجهت اخذ مدارک تحصیلی از موسسات آموزشی در کلیه رشته ها چه در شهر وچه در روستا این تصاوی شامل دوره های پیش دبستانی(مرحله کودکستان) آموزش عمومی، فنی، حرفه یی و آموزش عالی فنی و نیز دوره های حرفه یی مختلف میباشد.

این پیام از طرف کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان تقدیم گردید

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۳۱۶۰۴۵۰ - ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

ارادهٔ ورځپاڼه یوازې د سرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه یې مسولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک:
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: خادم احمد
موبایل: ۰۷۰۰ ۵۹۶۲۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون: استاد مرتضی فرحتیار
موبایل: ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل: ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین: انجینیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس: دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema,
first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com